مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۷۰** (از ۱۴ الی ۲۱ میزان ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................................................ ۲

**ماموریت جدید خلیلزاد و آیندهٔ گفتگوهای صلح افغانستان**

ماموریت جدید زلمی خلیلزاد ........................................................ ۴

گفتگوهای صلح با طالبان ............................................................ ۵

آیا خلیلزاد در ماموریت خود موفق خواهد شد؟ ..................................... ٦

**د ولسي جرګې د راتلونکو ټاکنو پر وړاندې شته خنډونه**

د ټاکنو میکانیزم ..................................................................... ۹

د سیاسي ګوندونو مخالفتونه ........................................................ ۱۰

ایا ټاکنې به په ټاکلې نېټه ترسره شي؟ ............................................ ۱۱

## مقدمه

په افغانستان کې له تېرو څو کلونو راهیسې له طالبانو سره د جګړې تر څنګ د سولې د خبرو اترو د پیل په موخه هم هڅې روانې دي. افغان دولت په دغه برخه کې د هېواد، سیمې او نړۍ په کچه په مختلفو ډولونو سره هڅې وکړې، ترڅو طالبان خبرو ته حاضر کړي؛ خو طالبانو تل له افغان دولت سره د سولې خبرې رد کړې او له امریکا سره یې پر خبرو کولو ټینګار کړی دی. امریکا که څه هم تراوسه د سولې د خبرو لوری تل افغان حکومت بللی؛ خو په دې وروستیو کې داسې ښکاري چې امریکا غواړي مخامخ له طالبانو سره خبرې وکړي.

په دې اړه څه موده وړاندې د طالب استازو او امریکایي دیپلوماتانو ترمنځ په قطر هېواد کې د لیدنې راپورونه خپاره شول او په وروستیو کې امریکا زلمی خلیزاد د افغانستان لپاره د خپل ځانګړي استازي په توګه وګوماره ترڅه له طالبانو سره د سولې د خبرو پروسه رهبري کړي.

خلیلزاد د افغانستان په تړاو د امریکا له مهمو سیاسي چارواکو څخه دی او ډېره هیله تري کېږي چې د افغانستان جګړې ته به نور د پای ټکی کېږدي. ځکه نوموړي له ۲۰۰۱ م کال وروسته په افغانستان کې د نوي نظام رامنځته کولو او ټینګښت کې هم د یوه امریکایي سیاستوال په توګه مهم رول درلود او د امریکا لپاره یې په افغانستان او عراق کې مهم ماموریتونه ترسره کړي دي. په افغانستان کې د زلمي خلیلزاد نوی ماموریت او له طالبانو سره د سولې د خبرو راتلونکی، هغه څه دي چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې بحث پرې شوی دی.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه مو د ولسي جرګې د را روانو ټاکنو په اړه د شته خنډونو لپاره ځانګړې کړې ده. د را روانو ټاکنو پروسه له لومړي سره له زیاتو ستونزو او ننګونو سره مخ وه. تر تېرې یوې میاشتې د افغانستان سیاسي ګوندونو له دغې پروسې سره د ټاکنو د میکانیزم او په ټاکنو کې له بایومترېک څخه د کار نه اخیستلو له امله پرېکون اعلان کړی و؛ خو اوس مهال چې د ګوندونو دغه غوښتنې منل شوې دي او د ټاکنو کمیسیون غواړي په بایومترېک بڼه ټاکنې ترسره کړي، یو ځل بیا د همدې بایومترېک دستګاوو پر کیفیت او د کارونې په اړه شکونه راپیدا شوي دي. دغه راز ځینې سیاسي ګوندونه پر کمیسیون تور پوري کوي چې دوی ته پر ټاکنو د څارنې اجازه نه ورکوي.

# ماموریت جدید خلیلزاد و آیندهٔ گفتگوهای صلح افغانستان



حدود یک ماه قبل زلمی خلیلزاد به عنوان مشاور خاص وزارت امور خارجهٔ امریکا، برای رهبری گفتگوهای صلح میان حکومت افغانستان و طالبان انتخاب شد. بر بنیاد گفته‌های مایک پومپیو وزیر خارجهٔ امریکا، زلمی خلیلزاد تلاش‌های واشنگتن در بارهٔ چگونگی پشتیبانی از گفتگوهای صلح حکومت افغانستان با طالبان و زمینه‌سازی این گفتگوها را رهبری خواهد کرد و نیز در این گفتگوها شرکت خواهد داشت.

زلمی خلیلزاد نخستین گام ماموریت جدید خود را هفتهٔ گذشته با آغاز سفر ده روزه به کشورهای پاکستان، افغانستان، عربستان سعودی، امارات متحده عربی و قطر برداشت. ظاهراً هدف این سفر زمینه‌سازی برای گفتگوهای رو در رو با طالبان و تلاش برای پایان بخشیدن جنگ جاری در افغانستان است.

خلیلزاد که یک امریکایی افغانی الاصل است و تجربهٔ کافی در رابطه به مسایل و قضایای مربوط به افغانستان دارد، در حالی ماموریت برقراری صلح و ختم جنگ افغانستان به وی سپرده می‌شود که در سال‌های اخیر تلاش‌های زیادی در این خصوص در سطح ملی و بین‌المللی صورت گرفته است، اما نتیجهٔ ملموسی را در پی نداشته و جنگ در کشور اکنون نیز با شدت بیشتر ادامه دارد.

ماموریت جدید زلمی خلیلزاد، چگونگی تلاش‌های گفتگوهای صلح با طالبان و این که با در نظرداشت میدان خونین و گرم جنگ در افغانستان، ماموریت جدید خلیلزاد در قضیهٔ افغانستان تا چه حدی تأثیرگذار خواهد بود؟ موضوعاتی اند که در این تحلیل روی آن بحث شده است.

## ماموریت جدید زلمی خلیلزاد

زلمی خلیلزاد از حدود چهار دهه به این‌سو به عنوان یک امریکایی در روابط افغانستان و امریکا و نیز در بازی‌های سیاسی افغانستان نقش مهمی بازی کرده است. پس از حمله امریکا بر افغانستان و سقوط رژیم طالبان، زلمی خلیلزاد نخستین نمایندهٔ خاص امریکا در افغانستان بود، او در کنفرانس بن و بنیانگذاری نظام جدید در افغانستان نقش پررنگی داشت. از سال ۲۰۰۳ الی ۲۰۰۵م به حیث سفیر امریکا در افغانستان کار کرد و در زمان ماموریت خود در تدوین قانون اساسی جدید افغانستان نیز نقش مهمی داشت.

خلیلزاد در حالی یک بار دیگر به حیث نمایندهٔ خاص امریکا برای افغانستان انتخاب می‌شود که جنگ امریکا در این کشور، با گذشت ۱۷ سال در حال حاضر با یک بن‌بست روبرو شده است و امریکا خود برای پایان دادن این جنگ به آغاز گفتگوهای مستقیم با طالبان چراغ سبز نشان داده است.

گماشتن زلمی خلیلزاد به عنوان نمایندهٔ خاص امریکا برای پیشبرد گفتگوهای صلح با طالبان و پایان دادن جنگ ۱۷ سالهٔ امریکا در افغانستان، ظاهراً بیانگر آن است که امریکا از جنگ با طالبان خسته شده و تلاش می‌کند که راه‌حلی برای قضیهٔ افغانستان از طریق گفتگوهای صلح پیدا شود؛ اما با در نظرداشت وضعیت پیچیدهٔ افغانستان (افزایش حملات تهاجمی طالبان، کشتار افراد ملکی در حملات هوایی نیروهای افغان و خارجی و نیز گفته‌های سکات میلر، قوماندان عمومی نیروهای امریکایی و ناتو در افغانستان در رابطه به طولانی شدن جنگ افغانستان و عدم خروج نیروهای خارجی از افغانستان) به نظر می‌رسد که یافتن راه‌حلی برای پایان دادن به بحران افغانستان، با این ساده‌گی کاری آسانی نخواهد بود.

## گفتگوهای صلح با طالبان

تلاش‌ها به هدف آغاز گفتگوهای صلح با طالبان، حدود یک دهۀ قبل با تشدید جنگ و گسترش دوبارۀ فعالیت‌های طالبان در مناطق مختلف افغانستان، از سوی دولت افغانستان و جهانیان آغاز گردید. با آنکه در این عرصه به سطح کشور، منطقه و جهان تلاش‌های متعددی صورت گرفت؛ اما تا کنون نتیجۀ ملموسی از آن بدست نیامده است.

حکومت افغانستان به هدف رسیدن به صلح در سال ۲۰۱۰م شورای عالی صلح را ایجاد کرد، بعدا در رابطه به آغاز گفتگوهای صلح با طالبان در کشورهای مختلف منطقه نشست‌های متعددی نیز صورت گرفت. با روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی، این تلاش‌ها بیش از پیش جدی‌تر شد. در چهار سال حکومت وحدت ملی، نشست ارومچی در چین، نشست مری در اسلام‌آباد، نشست های چهارجانبۀ صلح، نشست‌های پروسۀ کابل و نشست‌های متعددی علمای دینی در افغانستان، عربستان سعودی و اندونیزیا از جملهٔ تلاش‌های مهمی در این عرصه بوده است؛ اما با این همه حکومت افغانستان موفق به حاضر کردن طالبان به میز گفتگوهای صلح نشد و ظاهراً حکومت افغانستان در این عرصه با بن‌بست مواجه شده است.

از سوی هم جنگ ۱۷ ساله امریکا در افغانستان ـ که یک سال قبل دونالد ترامپ نیز با اعلان استراتیژی جدید نظامی خود، تلاش کرد تا این جنگ را با افزایش فشارهای نظامی به نفع خود به پایان برساند ـ در حال حاضر در خونین‌ترین وضعیتی قرار دارد و پس از یک سال از اعلام استراتیژی جنگی امریکا، دونالد ترامپ با درک وضعیت، برای خاتمۀ جنگ در افغانستان، به گونۀ غیررسمی دستور گفتگوهای مستقیم با گروه طالبان را نیز داد و در این مورد گزارش‌هایی در رابطه به انجام گفتگوهای مستقیم یک دیپلمات بلند رتبۀ امریکایی و نماینده‌گان طالبان در قطر نیز به نشر رسید. در ادامۀ همین تلاش‌ها، ماموریت خلیلزاد نیز گامی دیگری در سلسلۀ این تلاش‌ها پنداشته می‌شود.

این که در راستای رسیدن به صلح و ثبات هر قدم کوچک نیز امیدوار کننده است، تصمیم اخیر امریکا نیز شماری از افغان‌ها را امیدوار به آمدن صلح در کشور ساخته است و گمان می‌کنند که شاید این تصمیم بتواند زمینه‌های بهتری برای حل بحران افغانستان فراهم سازد.

## آیا خلیلزاد در ماموریت خود موفق خواهد شد؟

زلمی خلیلزاد ماموریت خود برای هماهنگی گفتگوهای صلح را از پنج کشور مهم منطقه آغاز کرده و تا اکنون به افغانستان، پاکستان و عربستان سعودی سفر کرده است.

خلیلزاد در سفر خود به افغانستان با رئیس جمهور غنی، داکتر عبدالله و برخی مقامات و رهبران سیاسی و جهادی در رابطه به وضعیت افغانستان و تلاش‌ها برای موفق شدن روند صلح و تأمین امنیت در کشور دیدار و گفتگو کرد. پس از سفر به کابل، روز سه شنبه (۸ اکتوبر ۲۰۱۸م) وارد اسلام‌آباد شد. او در این سفر با محمود قريشي وزیر خارجه و برخی مقامات دیگر آن کشور در مورد راه‌حل صلح و جنگ افغانستان صحبت کرد و مقامات پاکستانی یک بار دیگر تعهد نمودند که به همکاری خود در رابطه به صلح افغانستان ادامه خواهند داد. پس از دیدار با مقامات پاکستانی، به تاریخ ۹ اکتوبر به ریاض پایتخت عربستان سعودی سفر کرد و در رابطه به تأمین صلح و ختم جنگ در افغانستان با مقامات آن کشور نیز دیدارها و گفتگوهایی داشت.

قرار است زلمی خلیلزاد بعد از سفر خود به عربستان سعودی به کشورهای امارات متحده عربی و قطر نیز سفر کند و برخی گزارش‌هایی نیز وجود دارد که خلیلزاد در قطر با نمایندگان گروه طالبان نیز دیدار خواهد کرد؛ اما در کل سفر ده روزهٔ منطقوی زلمی خلیلزاد، رایزنی امریکا برای صلح در افغانستان و تلاش برای دخیل ساختن عربستان سعودی در قضیهٔ صلح افغانستان، بیانگر انجام تلاش‌های بیشتر و جدی‌تر برای افزایش فشار بر گروه طالبان به هدف حاضر شدن به میز گفتگوهای صلح است. از سوی هم آمدن خلیلزاد به کابل و داشتن دیدارهای او با چهره‌های مختلف سیاسی و جهادی کشور، نیز بیانگر تلاش‌ها برای ایجاد زمینه‌سازی در داخل افغانستان برای آغاز گفتگوهای صلح است.

ماموریت جدید زلمی خلیلزاد و تمام تلاش‌های اخیر امریکا برای آغاز گفتگوهای صلح با طالبان امیدوار کننده است و گفته می‌توانیم که سفر زلمی خلیلزاد به اسلام آباد و تلاش برای جلب همکاری پاکستان در پروسهٔ صلح افغانستان و نیز آوردن فشار بر پاکستان به هدف کاهش حمایت این کشور از مخالفان مسلح دولت افغانستان، بیانگر این است که امریکا می‌خواهد با در نظر داشت منافع خود و جبران ناکامی‌های ۱۷ سالهٔ خود در افغانستان، گفتگوهای صلح را مدیریت کند.

از سوی دیگر واشنگتن در حال حاضر در قضیهٔ افغانستان در شرایط دشواری نیز قرار دارد و با برخی کشورهای منطقه که مخالف حضور امریکا در افغانستان است، در تقابل قرار دارد. در این صورت به هدف گفتگوهای صلح با طالبان نیاز است که امریکا در رابطه با این کشورها در استراتیژی خود تغییرات لازم بیاورد و تلاش کند که اعتماد این کشورها را جلب کند، تا در این پروسه امریکا و دولت افغانستان را بگونهٔ واقعی همکاری کند.

با این همه اگر حکومت افغانستان و جامعهٔ جهانی بگونهٔ قبل بدون در نظر داشت بحث روی فکتورهای اساسي جنگ افغانستان، تنها تلاش کند تا به همکاری برخی کشورها، با وارد کردن فشارهای سیاسی، نظامی و فشارهای دینی بر طالبان، آنان را به میز گفتگوهای صلح حاضر کنند، گمان بر این است که این تلاش‌ها نیز مانند گذشته نتیجه‌ای در پی نخواهد داشت. پایان

# د ولسي جرګې د راتلونکو ټاکنو پر وړاندې شته خنډونه




د ولسي جرګې ټاکنې چې د قانون له مخې باید له نن څخه پوره درې کاله وړاندې ترسره شوې وای؛ د بېلابېلو لاملونو له کبله له درې کاله ځنډ وروسته، ټاکل شوې چې راتلونکې اوونۍ د روان لمریز کال د تلې په ۲۸مه ترسره شي.

که څه هم د ولسي جرګې د اوسنیو ټاکنو د ترسره کېدو نېټې ته د ګوتو په شمار ورځې پاتې دي، خو د هېواد خراب امنیتي وضعیت، په هېواد کې سیاسي اختلافونه او د ټاکنو پر بهیر د فساد او تقلب د تورونو د موجودیت له کبله د خلکو او سیاسي احزابو بې‌باوري، ټول هغه څه دي چې د ولسي جرګې د اوسنیو ټاکنو بهیر یې تر خپل سیوري لاندې را وستلی دی.

تازه د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د افغانستان اسلامي حزب ویلي، چې د ولسي جرګې را روانې ټاکنې د افغان دولت او ټاکنو کمیسیون له لوري داسې مهندسي شوې چې نه ګوندونه په کې حضور لري او نه هم ګوندونو ته د ټاکنو د څار حق ورکړل شوی دی؛ خو د ټاکنو خپلواک کمیسیون وايي چې په افغانستان کې د ۷۲ رسمي سیاسي ګوندونو له ډلې تر دې دمه یوازې ۱۲ یې د ټاکنو پر پروسې د څار باورلیکونه اخیستي دي او د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د افغانستان اسلامي حزب ځکه د ټاکنو د څار حق نه لري، چې دغه حزب په عدلیې وزارت کې ثبت او رسمي نه دی.

د ولسي جرګې د را روانو ټاکنو میکانیزم او په‌کې شته ستونزې، د ټاکنو له کمیسیون سره د سیاسي ګوندونو اختلافات او دا چې د ټاکنو له ترسره کېدو وروسته به د دغو ټاکنو پایلې د دولت سیاسي مخالفینو ته څومره منلو وړ وي؟ هغه موضوعات دي چې دلته به بحث پرې وشي.

## د ټاکنو میکانیزم

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د مهال‌وېش پر بنسټ د ولسي جرګې د را روانو ټاکنو لپاره د ولایتونو په مرکزونو کې د روان لمریز کال د حمل په ۲۵مه نېټه د رایې‌ورکوونکو نوم‌لیکنه پیل شوه. په نوم‌لیکنه کې د رایې‌ورکونې د قانوني عمر (۱۸کاله) لرونکو کسانو لپاره د تابعیت د تذکرې درلودل، یوازینی باوري سند وګڼل شو. دغه‌راز هغه کسان چې د تابعیت تذکرې یې تر اوسه نه وي اخیستې، د افغان حکومت د نفوسو د احوالو د ثبت اداري په مرسته د تذکرو ترلاسه کولو زمینه ورته برابره شوه.

د رایه ورکونې په شرایطو د برابرو کسانو لپاره د نوم لیکنې پر مهال د نوموړي شخص په تذکره کې د شته معلوماتو پر بنسټ د ده نوم‌لیکنه کېده او د همدې نوم لیکنې تصدیق بیا د تذکرې پر شا د سکاشټیپ په وسیله نښلول کېده. په دغه تصدیق پاڼه کې په شخص پورې اړوند شمېره، ټاکنیزه حوزه او د رایې‌ورکونې د مرکز ځانګړی ګوډ نمبر لیکل کیده. دغه‌راز یو کس چې په کوم مرکز کې نوم‌لیکنه کړې د ټاکنو په ورځ یوازې په هماغه مرکز کې خپله رایه کارولی شي.

په ټاکنو کې د ګډون لپاره دغه میکانیزم لاندې ستونزې لرلې:

**لومړی**؛ د رایې‌ورکونې لپاره د تابعیت کاغذي تذکره یوازینی باوري سند ګڼل، د دې لامل شول چې درغلیو ته په لوی لاس زمینه برابره شي. یو شمېر نوماندانو په زرګونه جعلي کاغذي تذکرې جوړې کړې وې، چې په اړه یې د سیاسي ګوندونو ګډ ایتلاف رسنیو ته نمونې او شواهد هم وړاندې کړل. په دغو تذکرو کې داسې موارد هم وو چې د یوه شخص په نوم څو تذکرې هم وېشل شوې وې.

**دویم**؛ پر تذکرو د کمیسیون له لوري د ځانګړو سټیکرونو جعلي جوړېدل او یا له کمیسیون څخه په پټه د سټېکرونو د کتابونو ترلاسه کول، په دغه پروسه کې یوه بله لویه ستونزه وه. د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز داسې معلومات ترلاسه کړي چې ښیي، ځینې نوماندانو د نفوسو د احوالو د ثبت اداري په همکارۍ د اشخاصو په نه موجودیت کې په مختلفو نومونو سلګونه بې تصویره تذکرې جوړې کړې دي. دغه‌راز یې همدا

تذکرې د ټاکنو کمیسیون د کارکوونکو په همکارۍ په قانوني بڼه ستېکر کړې هم دي او اوس مهال چې پروسه بایومټریک شوه، په دې لټه کې دي چې د همدې تذکرو د کارونې په موخه د پیسو په مقابل کې اشخاص پیدا کړي، تر څو یوازې د هماغه شخص د تصویر په لګولو سره له دغې تذکرې د رایې‌ورکونې په ورځ کار واخلي.

**درېیم**؛ تازه د ټاکنو کمیسیون اعلان کړې چې د ټاکنو د بهیر د څار لپاره پنځه زره کسان ګماري، دغه کسان به د ټاکنو بهیر څارې او د ټاکنو په ورځو کې به ټاکنیز شکایتونه راټولوي؛ خو په دې برخه کې اندېښنه دا ده چې په کوم اساس پر داسې لنډمهاله کارکوونکو باندې د دومره ستر مسؤولیت باور کېدای شي او په دې برخه کې څه ضمانت شته چې دغه کسان به خپله د مشخصو کسانو په ګټه درغلي ونه کړي؟

## د سیاسي ګوندونو مخالفتونه

د ولسواکو ټولنو په حکومتونو کې د ټاکنو له بهیر څخه د روڼتیا په موخه، د مدني ټولنو او سیاسي ګوندونو څارنه یو معمول اصل ګڼل کېږي؛ خو په افغانستان کې د ولسي جرګې د راروانو ټاکنو روڼتیا او د دې پروسې څارنه، د مدني ټولنو او سیاسي جریانونو تر ټولو ستره اندېښنه او له حکومت سره د مخالفتونو یوه لاره ده.

په افغانستان کې سیاسي ګوندونو څه موده وړاندې د ملي یووالي حکومت پر خلاف په ټاکنو کې د یوه بشپړ میکانیزم او د وسایلو نه موجودیت له کبله د ټاکنو له کمیسیون سره پرېکون اعلان کړ. د ټاکنیز نظام بدلون، په ټاکنو کې د بایومټریک کارونه او د ټاکنو له پروسې څخه هر اړخیزه څارنه، هغه څه وو چې د دولت او احزابو ترمنځ یې واټن رامنځته کړی و.

که څه هم په وروستیو کې افغان حکومت د سیاسي احزابو دغه غوښتنې ومنلې او د ټاکنو لپاره یې له نوې ټکنالوژۍ څخه د کار اخیستلو خبر ورکړ؛ خو لاهم له یوې خوا د بایومټریک د دستګاوو د کیفیت او روڼتیا په پام کې نیولو سره پر دغه ټکنالوژۍ شکونه او له بلې خوا د هېواد روان خراب امنیتي وضعیت او د طالبانو له لوري د ټاکنو په اړه شته ګواښونه، هغه څه دي چې را روانې ټاکنې ننګوي.

په بل اړخ کې د ملي یووالي حکومت په راتګ سره ولسمشر غنی په تېرو څلورو کلونو کې تر ډېره هڅه وکړه چې په هېواد کې د واک او ځواک کوچنۍ جزیرې له منځه یوسي، یا هم د همدې جزیرو په راس که شته افراد په یوه ډول له صحنې لرې او کمزوري کړي. د سیاسي ګوندونو مشران هم تر ډېره په همدې ډله کې راځي چې غني هڅه کوي دوی له قدرت څخه ورو ورو پر شا او کمزوري کړي؛ خو په مقابل کې سیاسي ګوندونو تل هڅه

کړې چې ولسمشر غني تر فشار لاندې راولي او خپلې غوښتنې پرې ومني. دغه‌راز ځينې داسې تحليلونه هم شته چې افغانستان کې د حکومت خلاف ځينې سياسي جريانونه او ګوندونه په لوی لاس هڅه کوي چې د ولسي جرګې ټاکنې ترسره نه شي، ځکه په دې توګه به د حکومت مشروعيت يو ځل بيا تر پوښتنې لاندې راشي او دوی به د موقت حکومت د رامنځته کولو غږ را پورته کړي.

## ايا ټاکنې به په ټاکلې نېټه ترسره شي؟

افغان حکومت او د ټاکنو خپلواک کميسيون تل پر دې ټينګار کړی، چې د ولسي جرګې ټاکنې به پرته له غزني ولايت څخه د هېواد په نورو ۳۳ ولايتونو کې په خپله ټاکلې نېټه ضرور ترسره کېږي؛ خو د هېواد امنيتي وضعيت، د طالبانو له لوري په خپره شوې اعلاميه کې د ټاکنو د پروسې ګواښل، د ټاکنو پر روڼتيا د ځينو سياسي ګوندونو بې‌باوري، تر دې دمه په هېواد کې د رايې‌ورکونې ټولو مرکزونو ته د بايومټريک دستګاوو نه رسېدل او د همدې دستګاوو د کارونې په اړه د خلکو او ټاکنو کميسيون د کارکوونکو نه پوهاوی په ځانګړې توګه په لرې پرتو سيمو کې، ټول هغه موارد دي چې په ټاکلې نېټه او شفافه توګه د ولسي جرګې د ټاکنو په ترسره کېدو شکونه را پيدا کوي.

پورتني او ځينې نور لاملونه دي، چې ټاکنو کميسيون ته نژدې باوري سرچينې د ټاکنو د ځنډېدو د احتمال خبر ورکوي. د دغو سرچينو له قوله، په راروانو ټاکنو کې ښکېل بهرني لوري له کميسيون سره په خبرو بوخت دي، ترڅو ټاکنې د لږ تر لږه لس تر شل ورځو پورې وځنډېږي.

له ټاکلې نېټې د راروانو ټاکنو پر ځنډېدو سربېره، په افغانستان کې له يوې خوا افغان دولت د جګړې او ناسم امنيتي وضعيت له کبله په ټوله خاوره حاکميت نه لري او له بلې خوا په ټاکنيزه پروسه کې د فساد او تقلب د موجوديت له کبله د ټاکنو پر روڼتيا د خلکو ترمنځ بې‌باوري خپل اوج ته رسېدلې ده او دا هغه موارد دي چې د ولسي جرګې د ټاکنو مشروعيت تر پوښتنې لاندې راولي.

په داسې يوه وضعيت کې له يادو شوو ټولو ستونزو سره ـ سره، که افغان حکومت ټاکنې ترسره هم کړای شي، تر ډېره به دغه ټاکنې يوازې تر لويو ښارونو رامحدودې وي او کوم کسان چې ولسي جرګې ته بريالي اعلانيږي د ټول افغانستان استازيتوب ادعا به نه شي کولی. ځکه د هېواد په روانو حالاتو کې د سرتاسري ټاکنو ترسره کېدل ناشوني دي.

بل پلو د دي احتمال هم شته چې د غزني په څېر په ځينو نورو ولايتونو کې يوازې د يوه قوم کسان ولسي جرګې ته راشي. په داسې يوه حالت کې ښايي د ټاکنو پايلې ټولو ته د منلو نه وي او په هېواد کې يو ځل بيا د (۲۰۱۴م) د ولسمشريزو ټاکنو په شان ناندرۍ او جنجالونه رامنځته شي.

پای

**ارتباط با ما:**

**ايميل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سايت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحليل هفته:** ضياءالاسلام شيرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحليل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com